# دولسمشر میلمستیا!؟

# او دکندهار بنډارونه

یون لیک

لیکوال : استادشیر شاه همدرد



**ددردونو، کړاوونو او ویرونولیکوال :**

شېرشاه همدرد دالحاج ګل جان زوی په ۱۳۵۲ لمریز کال دننګرهار ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې وزیږید .له ادب او فرهنګ سره یې مینه په فطرت کې اخښل شوې وه . دی لا د منځني ښوونځي زده کوونکی و، چې له شعر او ادب سره د ژورې مینې له امله د ښوونځي په ځانګړو غونډو کې پر دریځ (سټیج) راڅرګند شو .

دده فطري جرئت او استعداد دی لا ډېر وهڅاوه او دویاندۍ په فن کې دښوونځي ښوونکو اودده ټولګیوالو هڅونې دی دیو فعال او باجرئته ویاند په توګه وځلاوه .

په ۱۳۶۹ لمر یز کال چې پر ټول هېواد د ناپایه جګړې سیوری خپور و ، دی دننګرهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې زده کړې ته کېناست او خپل فطري استعداد او ذوق یې خړوبونې ته یې لا ډیره مخه پرانېستل شوه .

په ۱۳۷۳ لمر یز کال چې دی له ننګرهار پوهنتون څخه په اعلی درجه فارغیده ، نو پر هېواد دویر ، وحشت ، ډار ، وژونو ، وهنو او ترهو یوسراسري سیوری خپور و ، د خپل اسکیرلې ، نتلې او ځپلې ټولنې د محرومو خو مقاومو خلکو د غږ اوچتولو په موخه یې ژورنالیزم ته مخه وکړه او ادبیات ، فرهنګ او ژورنالیزم یې په یو وریښمین ادبي مزي سره وتړل او چې پر هیواد د یو ملي بدلون او اوښتون څپه راوښته ، نو دی دژورنالیزم په ډګر کې نومیالی شو .

په دغه ډګر کې دنورو غونډې دی هم وحشت او دهشت ، ویرې او ترهې په لاسونو او ګواښونو وویرول شو، وډار کړای شو او وځپل شو ، خو دده ذهن و فکر او قلم نه یواځې دا چې پخ نه شو بلکې لا ډېرتیره شو او دریځ یې کلک او مقاوم .

نه یې دزندانونو پروا وساتله نه دویرې او ډار . په ډاډه زړه یې د خپل ولس د غږ اوچتولو توغ په لاس کې رپانده وساته ، سره له دې چې ژورنالیزم دده ادبي فعالیتونو لږ څه ټکني کړل ، خو دا دلویو او نویو ادبي زیږونو او پنځونو لپاره دده د خلاق فطرت یوازې دمه اوساه اخېستنه وه .

اوس چې لږ څه د ساډوبي له چاپیریال نه راوتلی ، نو دادی خپل اصلي رسالت او مسئوولیت ته بیا هڅیدلی د کتابونو په لیکنو ، دسفرنامو، خاطرو ، یادداشتونو او برداشتونو په خوندي کولو او دخپل زړه غږ خپل ولس او خلکو سره په شریکولو خپل ادبي مسئوولیت سرته رسوي.

دکندهار یونلیک دده د ورستیو ادبي پنځونو ښایسته نمونه ده ، زه يې دادب فرهنګ او کولتوري پراختیا په ډګرکې تر دې دسترو بریاوو هیله مند یم .

په اسلام او پښتونولۍ مئین
محمد داود وفا
۱۳۸۸ مرغومې ۱۴مه جلال اباد

# دکتاب پیژندنه :


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | دولسمشر مېلمستيا!؟ او دکندهار بنډارونه |
| ليکوال : | استاد شيرشاه همدرد |
| بريښنا ليک : | Shershahhamdard@yahoo.com |
| ګرځنده شميره : | 0708198302 |
| چاپ شميره : | زر ټوکه |
| چاپ کال : | ۱۳۸۸ل/۲۰۱۰ز |
| کمپوزر: | ډاکتر انتظاراحمد همدرد |
| دپښتې ډيزاين : | ډاکتر انتظاراحمد همدرد |

**سریزه**

یونلیک لیکنه ، دداستاني ادبیاتو هغه خوږ او په زړه بورې ژانر دی ، چې پخپل چوکاټ کې د لیکوال لپاره ، د خپل فکر نیلي ځغلولو ته پراخ ډګر لري ، ځکه خوماهم کندهار ته د خپل سفر پرمهال خپلې لیدنې ، تاثرات او یادښتونه د یونلیک په بڼه خوندي کړي دي .

هیله من یم ، زما د غه لیکلي هڅه له لوستلو وروسته درنو لوستونکیو ته ددوی په اند ، په دغه تول پوره ختلی وي .

که نه وی ، هیله ده په خپلې بزرګوارۍ به مې وبښې .

ماپه دې یونلیک کې هغه څه لیکلي چې لیدلي او اوریدلي مې دي ، په ځینو مواردو کې مې یو شمیر پوښتنې چې له قرینې یې ځواب روښانه وو ، نه دې ځواب کړي .

ځکه وایي ( چیزی که اعیان است ، چه حاجت به بیان است ) هیله ده لوستونکې مې پړ ونه بولي .

د رنښت

ستاسو د احسانانو پوروړی

شېرشاه همدرد

## د ولسمشر میلمستیا!؟ .1

## د کندهار بنډارونه:

د ۱۳۸۸ لمریز د لیندۍ لومړی نیټه وه،دننګرهار اطلاعاتو فرهنګ رئیس اورنګ صمیم په تیلیفون کې راته وویل،یو شمیر خلک ولسمشر ته د بیا ټاکل کیدو له امله مبارکۍ ته ورځي،ته هم په لست کې یې،ما ویل کله چې ولسمشر د یوې ښې کابینې په جوړولو او د اداري فساد له منځه وړلو کې بریالی شي،بیا به ورته مبارکي ووایو.دا دنده خو یې نوې نه ده،وې خندل ویل لاړ به شو ښه ده،زړه نا زړه مې ورسره ومنله،په سبا د سپین غر هوټل مشر وقار صاحب چې د نوموړي هوټل د بیا رغاونې چارې بشپړې شوي، والي صاحب به وګورو چې د پرانیستي لپاره یې دعوت کړو زه او وقار صاحب قصر ته لاړو چې والي صاحب وګورو د ننګرهار والي ګل اغا شیرزی تورخم ته د یو سړک د پرانیستې لپاره روان وو، ما وویل زه او وقار صاحب درسره خبره لرو ویل موټر ته راسره وخیژئ،په لاره کې به خبرې وکړو حاجي صاحب ګلمراد هم ورسره و، په دې باب مو خبرې په موټر کې ورسره ونه شوې په خبرو خبرو تورخم ته ورسیدو د تورخم بڼه مو د پخوا په پرتله اباده ولیده، تر ډیورنډه هاخوا تورخم د افغانستان په پرتله ډیر سپیره ښکاریده،یو وخت مې ارمان دا وو چې کله به افغاني تورخم ښیرازه ووینم،په لیدو یې خوښ شوم د بیرته ګرځیدو پرمهال والي صاحب موږ ته د ولسمشر د میملستیا او کندهار ته د بنډار لپاره د تګ بلنه راکړه په اختر کې له کوره وتل راته مناسب نه ښکاریده خو د ملګري خو د ملګري ټینګار او د والي صاحب اخلاص راباندې ومنله.

د ۶۰ تنو دوستانو لست ترتیب شو د لیندۍ په دریمه ،سهار وختي د کابل پر لور وخوځیدو زه ،محي الدین ،نوراغا ځواک او وقار صاحب په یو موټر کې سپاره شو، او روان شو په لاره کې مو د هیواد پر سیاسي حالاتو ډیرې خبرې وکړې.

د کابل جلال اباد سړک چې یو وخت ډیر خراب و، د قیر ارمان مو کاوه خو اوس چې دغه سړک ښایسته قیر شوی،ځای،ځای مو د ټانکرونو د سوځیدو له امله د سړک ځینې برخې د ویجاړیدو په حال کې ولیدې چې یو نیم ځای په دویم ځل په قیر بیرته پیوند شوي هم وو، ما ویل کاش دا ښایسته قیر وران شوی نه وای.

سروبي تونل سره لاره بنده وه،له لږ ځنډ وروسته لاره خلاصه شوه، په دې لار د موټرو دومره بیرو بار وو چې هر سړي ته یې د دویم سړک ارمان وروسته، ما ویل که وخت پیدا شو ولسمشر ته به د همدې سړک ترڅنګ د دویم سړک جوړلو وړاندیزکوم ځکه تر سیند هغه غاړه د بل سړک د جوړیدو امکانات شته خو که زموږ خو که زموږ د چارواکو خدای ورته پام کړي،کابل ته ورسیدو، وزیر اکبر خان جومات کې سره راټول شولو،له لږ ځنډ وروسته د ارګ په لور وخوځیدو د چارو په اداره کې تم شو،باران ته ولاړو ټول لامده او خیشته شول موږ ته وویل شول،پرته له پیسو او قران شریفه د بل هیڅ شي د انتقال اجازه نه شته حتا قلم ته هم.

ما ویل زه خو یونلیک لیکم په څه به یادابنت واخلم خو خیر د هغوی اصول وو،ښه وو که بد موږ باید منلی وای.

شیان مو تسلیم کړ، وپلټل شوو له ټولو وروسته موټرې ولاړې وې، د ارگ تر دویمې دروازې یې ورسولو، هلته بیا یې په یوه لیکه ودرولو، کله چې پلټنه خلاصه شوه په دویمه دروازه ورننوتو، یو تن ولاړ وو،ویل که د چا اودس نه وي اودس دې وکړي، اوبه دومره یخې وې چې اودس کول پرې سم د زهرو گوټ وو.

د ارگ جومات باید گرمې اوبه لرلې ځکه د یو هیواد د پاچا ځای و.

څه عام ځای خو نه و،چې گرمې اوبه به هم پکې نه وي خو په هر حال،د ارگ په جومات کې مو د ماسپښین لمونځ اداء کړ هوا ډیره سړه وه چا ویل څنگ ته یې د بابای ملت حرم سرای دی له جومات نه د وتلو پرمهال بیرته له دویمې دروازې ووتو،دسلام خانې په تالار کې پر میزونو ډوډۍ وخورو،ولسمشر چې له ډیرو سیاسي ناندریو،ټاکنیز منډو ترړو او فشارونو بریالی رواتلې و،پخوانۍ بڼه یې تازه ښکاریده، سلام خانې تالار ته راننوت، ښه و د لاس په جیگولو له ټولو سره د ستړي مشي اوږده پروسه یې لنډه کړه یو شمیر مشران او میرمنې ولسمشر سره کیناستل ولسمشر په خلکو د کشینئ، کشینئ خدای مو راوله په غږ سره پخپله هم د ډوډۍ میز ته کښیناست. د ملي راډیو تلویزیون ویاند سنگرمې(چې غالبا هلته هم د ویاندوۍ دنده لرله)ولید،له روغبړ ورسته مې ورنه هیله وکړه چې قلم راکړئ د غونډې عکسونه هم راولیږئ ډاډ یې راکړل، چې زما په ادرس به یې را ایمیل کړي،کور یې ودان ورسته یې را ایمیل کړي وو، خو د استفادې وړ نه وو وروسته مایک ته ودرید ولسمشر ته یې اجنډا تشریح کړه او بیا تلاوت وشو او ورپسې د ولایت مرستیال ښاغلی اسحاقزی د خلکو په نامه لیکل شوی بیانیه ولوستله په بیانیه کې ولسمشر ته د مبارکئ د تشریفاتي کلماتو ترڅنگ د ننگرهار د خلکو غوښتنې هم ځای شوې وې. یو شی چې د ملاحظې وړ وو هغه له حد نه زیات د بیانیې تشریفاتي بڼه او ولمسمشر په مختلفو تشریفاتي کلمو مخاطب کول وو،لکه مهربانه مشره،جلالت ماب... چې دا په نورو مناسبو افرادو الفاظو چې د چا خبره(نه سیخ سوی نه کباب)لیکل کیدلی شوی،په هر حال په غوښتنو کې د کابل جلال اباد دوهم سړک او د ننگرهار د بریښنا ستونزه هم ذکر شوی وه،ما ویل ښه شو چې زما د زړه خبره هم پکې وه وروسته غمشریک صاحب خپل شعر ولوست شعر هم بد نه وو گر چې غمشریک صاحب د سبک له مخې چې په الفاظ کې یې خواږه دومره ډیرې وې چې خلک یې بیا بل ډول انگیرې،شعر لیکي ځینې سپارښتنې هم پکې وې،له هغه وروسته د ښځو چارو رئس شیلا بابري هم خبرې وکړې او د میرمنو نیکې هیلې یې وړاندې کړې ولسمشر خبرو ته جیگ شو خبرې یې په کینایې پیل کړې له ننگرهاریانو یې وغوښته چې دده د زړه خبرې بل چاته یې ونه کړي کیدای شي سیاسي طنز یې وبولو چې د پېښولو نه ده هغه دا چې د ویل د ټاکنو پر مهال زه د ننگرهار له ولایت نه ډاډه وم چې ماته خلک رایه راکوي حاجي صاحب دین محمد راته راغی ویل د کمپاین لپاره څه راکړه چې د ننگرهار په کمپاین یې ولگوم ما ورته وویل چې په ننگرهار کې لگښت ته اړتیا نه شته که ته یې بیا هم لگوی خپله خوښه دې ده.

هغوی بغیر له لگښته هم ماته رایه راکوي،ښایې ولسمشر ددوی د احسانونو ځواب داسې ورکوو چې:

له زړه نه زړه ته سره لاره وي

چې زما خوښ یې نو ستا به ولی بدې شمه


بیا یې د ټاکنیزو منډو ترړو یادونه وکړه او د نړیوالې ټولنې هغه موضوع یې هم یاده کړه چې دده په وینه درغلیو ته پکې ډیر زیات هوا ورکړل شوې وه،مانا دا چې واقعیت نو څه وو،په حقیقت ده د پردې تر شاه د نورو لاسونو او لاس وهنو سر ټکاو،هغه ویل د ټاکنو د کمیسیون چې د هغه په وینا ډیر با تدبیره او په وطن مئین سړی دی د خارجیانو خبره یې ومنله او ټاکنې دوهم پړاو ته لاړې خو کاش دوهم پړاو هم ترسره شوی وی ښایې هدف به یې دا وو چې د هر چا زور او په ټولنه کې محبوبیت څرګند شوی وی ولسمشره د کاندیدانو او هغه کسانو هم ستاینه وکړه چې ټاکینزې مبارزې یې کړې وې، د کابل -جلال اباد دوهم سړک چې د حصارک په لاره غځیږې د ژر پیلیدو ډاډ یې هم ورکړ.خو د برېښنا پر ستونزو یې غوړ ونه ګراوه، دا هغه ستونزه ده چې د ننګرهاریانو په دې ټکي ډیره تبصره وکړه. ولسمشر د هیواد د ښیرازه راتلونکې په اړه هم خپله خوشبیني څرګنده کړه خو د ولسمشر پخوانیو ژمنو ته په پام دا ژمنې خلکو ته چندانې عملي نه ښکاریده په پای کې د ننګرهار والي او ملک نظیر لخوا پګړۍ او دګلانو ګیډۍ ورته ورکړل شوې.د وتو پرمهال یو شمیر خلکو سره یې په لاس روغبړ وکړ او بیا رخصت شو،میلمستیا د ظروفو په لحاظ لوکسه وه،خو د اردو ژبو خبره چې(روټي کوچ نهی سامانات بهت بهت) په شیر پور کې د والي صاحب کور ته لاړو هلته له ځنډ وروسته والي صاحب راوغوښتو،د هغه اخلاص او میلمه پالنې روحیه چې دې لري ټول یې ښه په راشه درشه وپالل.دده ښایسته او با سلیقه کور بابای ننګرهار ملک نظیر د خوش طبعی په بڼه دده ټول ښایست په دې کیسې را لنډ کړه:ویل کوم پاچا وو چاته یې ویلی وو په دې هیواد کې به داسې څوک وي چې مانه پیژني؟د دربار مسول ورته وویل هو! پاچا وویل ماته یې راولئ سړي یې راوست سړی یې پاچا ته ودروه پاچا پوښتنه وکړه ما پیژنې؟ سړی وویل ال عیاذ باالله خدای به یې نو پاچا وویل نه،پیغمبر به یې ویل نه دا یو هم نه یم.

وویل چې دا یو هم نه یې نو په دې جنت کې څه کوې؟ټولو وخاندل بیا یو ښکلی صالون ته را ښکته شول چې واقعا ډیر لوکس وو،او هم پخوانی ماډل راډیو ګانې،ټایپونه،نوی ماډل تلویزیون او ډایکونه په یو لوکسه الماری کې ایښودل شوی وو،والي صاحب د میلمنو سره خوش طبعی او ټوکې کولې له یو ساعت وروسته ووتو،ډوډۍ تیاره شوه او له ډوډۍ خوړلو وروسته زموږ د یو ملګری(جنرال نومیالی) مور په حق رسیدلی و،موږ ویل شوی وو چې سهار شپږ بجی کندهار ته پرواز ده ځکه د بیدیدو لپاره بیرته شیر پور ته راغلو عبدالزی صاحب او هاشمي صاحب هم زموږ کوټې ته راغلل ویده شول، ما د یونلیک یوه برخه ولیکله نور مې ن و د خوب په نیت سره په بالښت کیښود ماویل ویده به شم چې سهار وختي پاڅم خوب چیرته وو یو خو مې بستره بدله وو بل د خدای په زور داسې خراری په کوټه کې پیل شو تا به ویل سم اوښان حلالیږي، یو به خر وهل او هغه بل به قراو پل خو سم غوبل وو،شپه مې په ویښه تیره کړه سهار وقار صاحب راته وویل،همدرد صاحب ښه خوب دې وکړ ما ویل کونډې ته خوب نه ورته،زوی یې ورته ویلې وه چې زویه ویده شه که نه،ولی نه ویده کیږې؟مور یې وویل های بچیه خوب خو هلته خوب وه چې پلار دې ژوندی وو اوس خو ایله سر ایښودل او جیګول دي. ټولو وخاندل ۷:۳۰ بجې د کابل هوایې ډګر پر لور وخوځیدو په هوایې ډګر کې د پلټنو وروسته د ښاغلي مسعود احمد عزیزي لخوا چې د والي صاحب له لوري د میلمنو د سفر چارې ورسپارل شوې وې ټکټونه راکړل شو په پام کې وه چې د پامیر په الوتکه کې الوتنه ترسره شي خو له لږ ځنډ وروسته میلمانه یوې پاکستانې الوتکې ته رهبرې شو، میلمانه ټول پاکستاني الوتکې ته ور وختل دریو ښایسته او پاکستاي انجونو چې زیړ بخن طلایې ویښتان یې شاته غوټه کړی وو د لبسرین نری کرښه یې شونډې یې له ښکلی کړی وو

لکه د هوسۍ ښایسته سترګې یې په رنجو تورې او د ښو کاږه غشي یې هم ورولو ته چمتو وو زد میلمنو هر کلی وکړه له لومړنیو سپارښتنو وروسته یې له مسافرو وغوښته چې خپل مبایلونه بند کړي مو افغانان سر زوری خلک دي په یو خبره کله دي ځینو ته بار بار زنګونه راتلل چې له امله یې د ښایسته پیغلو تندې یې ګونځې شوې خو د میلمه پالنې د اصولو له مخې به یې بیا هم ویل په مسکه خوله ویل موبایل بند کړو.بیا به یې په قهرجن ناز او مکیز مخونه بل لوري ته واړول.میلمنو ته دې خدای انصاف ورکړي په قصدي ډول یې پیغلې ځورولې د سهار نه بجې شوې الوتکه الوتنې ته اماده شوه.

د سلو مترو پلی وروسته الوتکه ودریده د الوتکې لارښود د میلمنو ته د کابل پر هوائې ډګر د الوتکو د ازدهام خبر ورکړ، زما ترڅنګ ځواک هم ناست وو څه مو نه ویل،په خاموش انداز د الوتکې د سیټونو د تنګ والي او د هوایې ډګر د خرابي لیکې په باب مو فکر کاوه ، ما خو له بده مرغه د نورو هیوادونو هوایې ډګرونو نه دي لیدلې هسې کیسې مې اوریدلي دي خو د اسلام اباد هوایې ډګر لا د پرتلې نه دي نور خو لا پریږده موږ ویل د ډالرو په دومره باران کې چې نړیوال یې شپه او ورځ پر موږ احسان باروي بیا هم زموږ د هوایې ډګر دغه حال دی!ځواک ته مې وویل الوتکه همدلته تیل خلاص کړي چې مصیبت وانه وړو،زما خبره لکه طنز هغه وخنداوه،بیا په سوچونو کې ډوب شوو الوتکه به کله الوزي؟د الوتکې میلمه پالې پیغلې چې د ټولې سورلۍ پام یې ځانته اړولی و بیا راغلې،او د کمر بندونو په تړلو یې ټینګار وکړ،یو شمیر کندهاري ځوانان چې د الوتکې په وروستۍ برخه کې ناست وو،د الوتکې میلمه پالو پیغلو سره یې ټوکې پیل کړې،ملخي ورته وویل:طیاره همدلته تیل ختم نه کړو یار،جنکی به ورته وموسکید او بیا به د خندا شو د الوتکې فضا ونیول شل کم لس بجې الوتکه والوتله د جیګیدو پرمهال د کابل اسمان وریځو پوښلی و،موږ په دې ډاریدو چې هوا ښه نه ده هسې نه الوتکه خپله کرښه غلته کړي خدای مه که څه پیښ نه شي له ټولې ویرې سره سره د خندا شور او زوږ یو شمیر کسان غوسه کړل ویل زنانې ناستې دي ډیر مه خاندئ له لږې شیبې وروسته الوتکه له وریځو جګه او تیزه شوه پاس اسمان تک شین وو تک سپین ښکاریده لکه سپین بخمل چې پرې غوړیدلې وي شاته زموږ بل ملګری محی الدین ناست و ویل یې ټول افغانستان غر غر دی حیران یم چې دا هیواد به څنګه اقتصادي پرمختګ وکړي؟

ما ویل لعل او جواهر په غرونو کې وي،کله چې به الوتکه د وریځو په منځ کې تله،جټکه به یې خوړله بیا به الوتکه ارتفاع ونیوه لاندې په غرونو غونډۍ ، غونډۍ او غرونه غرونه وریځې روانې وې تر کندهاره له الوتکه ایله غرونه ښکاریدل




شل کم یوولس بجې وې چې د کندهار په هوایې ډګر کې الوتکه راکوزه شوه.

په کندهار هوایې ډګر کې یوه لیکه کروزینو د والي صاحب او میلمنو د انتقال په موخه ولاړ و بهرنیانو ورسره یادګاري عسکونه واخیستل مونږ هم د ترمینل په خوله کې یادګاري عکسونه اخیستل چې یو عسکر راغې ویل اجازه نشته له ترمیلنه ووتلو.



پر سړک د کروزینونو،ډاډسنو او سرف موټرو بله لیکه جوړه وه موږ په یو ابي رنګه سرف کې وختوو،یو زلمی اشترنګ ته ناست و له هوایې ډګره وتلو ده داسې ډریوري کوله لکه په هوا چې روان وي.

په هوا چې روان وي، ما پوښتنه وکړه دا سړک ولې خام پاتې دی، ویل خارجیانو د هوایي ډګرلاره بدله کړې ده موږ هسې هم د الوتکې له سفره ستړي وو ډیری خبری مو نه کولې ډریور بیا په خبرو سر شو (زما تره د لیوا قوماندان دی عبدالرازق نومیږي سړکان ټول شیرزي صاحب قیر کړي خو اوس یې څوک نه ترمیموي) په لاره کې مې ترې پوښتنه وکړه، دې سیمې ته څه وایي؟ ویل دې ته ډنډونه وایي. موټر لږ ورو شو یو ویجاړ پولګی مو تر سترګو شوډریور ویل دغه پولګی بیګاه طالبانو الوزولی دی دلته امنیت نسته.وروسته مې ترې د نوم پوښتنه وکړه ویل یې نوم مې محمد رحیم دی د شیرزي کشری ورور یم. په بی احتیاطۍ د ده موټر چلونه ده ته هم پوښتنه پیداکړې وه ماته یې ویل هیله ده زما د خرابې ډریورۍ له امله خفه شوي نه یاست ما ویل نه، کندهاریانو سره شوخي خوند کوي ویل یې که دلته شوخي ونه کړې نسې چلیدلې، په خبرو خبرو انصاري واټ ته ورسیدو، هلته چې د شیرزي صاحب قصرونه موقعیت لري شیرزی راغی هر قصر یې د ننګرهار میلمنو ته وښوده ویل یې پنځه ویشت قصرونه مې دلته ودان کړي دي. بیا خپل میلمستون یې خلکو ته وښوده په ربښتیا چې شاهانه و، د سراج العمارت د ماڼۍ په شان بلکې تر هغې هم ښکلی و خو چارې یې لا بشپړې شوې نه وې د ښاري پراختیا رئیس انجینر زاخیل ته مې وویل دغسې نقشې جوړوه چې ننګرهار پرې ښکلی شي، ویل یې بو په شونډو کیږي. قوماندان مصطفی خان مې هم څنګ ته ولاړ و هغه وویل هر څه په امکاناتو کیږي وروره، وروسته ډوډۍ تیاره شوه پسونه حلال شوي وو د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه د استراحت په نیت شیرزي ځوانانو ته یو قصر، سپین ږیرو ته بل او نورو ته بل ورحواله کړلاړو هر قصر ډیر ښه ډیزاین او خاص زینت وربښل شوی و. د خوب شاهانه تختونه پکې وو، د لږ استراحت وروسته د مازیګر لمانځه ته پاڅیدو لمونځ مو اداء کړ.



**لومړۍ شپه**

د شپې له ډوډۍ وروسته بنډار پیل شو لومړی د هندي هنرمند رفیع خوارږه کمپوزونه په پښتو موسیقۍ واورول شول بیا یو شمیر هنرمندانو سندرې وویلې برخه وال له لرې موسیقۍ اوریدو وروسته د انارو په خوراک پیل وکړ دومره انار یې وخوړل ماویل ناروغان نه شي شپه تیره شوه سبا لس بجې سره بیا راټول شوو حاجي فیض الله عمر او حاجي ملک نظیر (بابای ننګرهار) په خپلو ټوکو او لطیفو محفل رنګین کړی و، حاجي فیض الله شیرزي سره ټوکه کوله ویل یې خدای په دنیا ډیره هستي درکړې، جنتونه یې دربښلي دي خو په اخرت کې والله که رانه جنت ووینې. شیرزي وویل د بډای سړي اخرت هم ښه وي ځکه مسکینانو سره مرسته کوي حاجي فیض الله پرې په بم غبر ، غبر وکړ ګوره کبرونه کړې ځکه ځلورو شیانو کبر کړی و، خدای پاک د هغوئ د کبر د زوال په خاطر هغه څه وکړل چې عقل یې نه مني.

۱ سیند

سیند کبر کړی و چې له مانه زورور او لوی بل نشته الله پاک ورته وویل ته هیڅ هم نه یې په یو پوف به خلک دربانديې تیریږي هغه داسې خیګ کې چې کله هوا واچول شي خلک د اوبو پر سر د سیند نه پری تیریږي.

۲- تندر

کله چې تندر چیرته ولویږي له اوسپنې، اوبو او ونې نه هم وځي خو په فلزاتو کې بیکاره شی ثرب دی تندر په ثرب کې بندیږي.

۳- زمری

زمری په ټولو حیواناتو کې ډیر قوي او ځیرونکې حیوان او د حیواناتو پاچا دی هغه کبر کړی و چې له مانه بل زورور نه شته الله پاک ورته وویل ته هیڅ شی هم نه یې ځکه ستا مرګ به له میږي نه وي هغه داسې زمری چې کله ویده وي میږی راشي هغه وچیچي زمری له ډیره قهره چې داچا وچیچلم خپل نوکان خیټې ته ننباسي، خپله خیټه ځیرې کړي هغه میکروبي شي او بالاخره له همدې زخم نه مردار شي.

۴- ښامار(شامار)

اویا کاله چې مار اوبه ونه څښي ښامار ترې جوړیږي، ده هم کبر کړې و چې یم که نه یم زه یم الله پآک ورته وویل ته هیڅ هم نه یې ځکه ستا مرګ به په حشراتو کې له یوې بیکارې حشرې(زیړی غمبسې) نه وي کله چې زیړه غمبسه ښامار وچیچي وپړسیږي تر دې حده چې په منځ دوه پړکه شي.وچوي او مردار شي.

نو والي صیب مسکین پرسته یې ځکه الله پاک ډیر څه درکړي دي سخي یې خو ګوره چې کبرونه کړې ګنې ته به هم د همدې کیسې... والي صیب او ورسره ناست خلک پړق پړق وخندل ویل یې یاره حاجي فیض الله چې دانور .... دې نه ویل ښه معلومات او فصاحت لرې بابای ننګرهار پرې غړ وکړ چې دا غړ دې ولې ډیر زیر او بم کیږي؟ فیض الله ویل دالا څه کوې د ستونې سرطان یم. شیرزي ورته سینه وډبوله ویل اعلاج دې کوم خارج ته دې لیږم. بیا خلکو وخندل ویل فیض الله عمره بیا دې ګټه وکړه. شیبه پس پس یو کندهاری چې نوم یې نه راځي، راغې ویل( شیرزي ننګرهار درجوړ کئ نور بس دی بالا موژ ته یې راپریژدئ) حاجي فیض الله بیا خوله خلاصه کړه ویل او د کندهار خلکو واورئ عشق پیژنئ؟ عشق له درې تورو نه جوړ دی ع، ش، ق

ع: مانا دا چې عقل له منځه وړي .

ش: مانا داچې شهوت زیاتوي

ق: مانا دا چې د انسان قوت له منځه وړي.

عشق غر ته ورغئ ويل ما قبول کړه غر ترې وډار شو باد ته ورغئ ويل ماته ځای راکړه باد ويل ستا د طاقته نه یم، سیند ته ورغئ سیند په څپو شو ترې وتښتید ګل ته ورغئ ګل ورته په خپله سینه کې ځای ورکړ. ګل غوټۍ و، کله چې عشق ته یې ځای ورکړ، وغوړیده ګل شو، خو په منځ کې یې یو تور داغ پاتې شوځکه وسوزیدو، بیا یې غږ زیر او بم شو ویل شیرزی عشق دی تاسې یې نه شئ ساتلی ننګرهاریانو ورته په خپله سینه کې ځای ورکړی. خلکو بیا غر وهل.

دوهمه شپه

ماښام شو خلکو د شپې ډوډۍ وخوړله، کندهاریان د نورو په پرتله غوښه ډیره خوښوي هره ورځ به د پسونو له غوښو روش پخیده له ډوډۍ وروسته شیرزي وویل نن شپه بنډار د عبدالرازق په سرای کې کوو، یوه کوڅه بره د قصرونو یوې بلې لیکې یا کوڅې ته داخل شولو

د اول قصر په دروازه ننوتلو دا قصر دومره ښکلې و چې میلمانه یې حیران کړ، سړکونو کې یې داسې غمي لګیدلي وو چې د موټرو په تګ راتګ هم نه خرابیدل، دننه هم ډیر ښکلی و، د کور کیڼ اړخ ته د ناستې یوه خونه وه ډیره ښایسته ډیزاین شوي وه رنګینه غالۍ پکې غوړیدلې وه. شاهانه سلیقه پکې کارول شوې وه عبدالرازق ویل دا غالۍ مې په اتلس زره امریکایي ډالره رانیولي. خو لنډه دا چې د کور ننداړې ټول خلک ښه اغیزمن کړي وو، سالون ته ورننوتلو دا سالون د قصر په بر کونج کې ګول سیستم ودان شوی وعجیبه داوه چې چت یې هیڅ ستنه نه درلوده پردې یې هم ډیر ښکلې وې ښایست پرې تمام و.

ګل جان استاد پکې خپله هارمونیه سر کړه.

ټول خلک د دیوالونو غاړو ته کیناستل.

والي صاحب، ملک نظیر، حاجي ګل مراد او صمیم صاحب د مشرانو په ځای کې موسیقۍ محفل ته مخامخ پرلویو اوږدو کندهاري بالښتونو تکیه ووهله.

ګل جان استاد په پیل کې د ملنګ جان دا شعر چې

وطنه ګران وطنه جنت نشان وطنه

ته زمونږ شمعه مونږه ستایو پتنګان وطنه

په ښکلي غږ کې زمزمه کړ او خپل ننګرهاري استعداد یې خلکو ته وښوده، دې ترانې دومره خوند وکړ چې د هر چا په زړه کې زه وایم دابه تیر شوی وي چې که دا جنت نشان وطن چا وران کړی وي او یا چا خرڅ کړی وي الله (ج) دې ورته سزا ورکړي د ناستو خلکو لخوا دا ترانه په ګرمو ولولو بدرګه شوه. د ګل جان میله ګرمه وه خلکو ورته د کاغذ پر ټوټې فرمایشونه لیکل انونس ورکړل شو ویل یې یوه

سندره د ځوانانو په فرمایش وړاندې کیږی چک چکې شوې د شپې یولس نیمې بجې وې د لایق صاحب دا غزل یې وویل چې :

دا وختونه بې له تانه

نه تیریږي یې ای جانانه

ځوانانو باندې ډیر ښه ولګیده هسې هم وایي چې :

د نیمې شپې سندرې خوند کا

څوک به مئین وي څوک به ورک له ملکه وینه



شپه پخید له د محفل چاپیریال لا سندریز کیده دغه رومانتیک چاپیریال او حالت پر هر چا ځانګړی اغیز ښندلی و، ګلجان د منګل استاد دا شعر پسی ووایه:

مخ مې وطن ته یاره سم واړوه

بیا جنازه مې په تورخم واړوه

دغه شعر خلکو ته د هجرت او جنګونو هغه کلونه وریاد کړل چې هیڅا هم ترې د یو نیکمرغه سبا هیله نه شوای کولی.

په دې وطن کې خو هسې هم د هر سبا پیې شپه ژر راځي د ملنګ جان دا شعر هم دکلمه شو چې:

پښتون غریب برباد شو

له دې غمه ژړېږم

بی علمه، بی تعلیمه، رانه پاتې خپل اولاد شو

پښتون غریب برباد شو

د ډیورند کرښې دواړو غاړو ته د خورو ورو خوارو بی رهبره پښتنو حال خلکو ته پر زړه شو چې هره ورځ او هره شپه پرې ناتار سم دی. خرواری بمونه پرې ورېږي ، وژل کیږي، ځوک یې القاعده بولي، ځوک یې څه او څه بولي، که پښتانه په اتفاق وای او یو مدبر لارښود یې لرلای ، اوس به د نړۍ د زبر ځواکونو د اقتصادي جنګونو ښکار شوي نه وای، که پښتنو کې پرمختګ راغلی وای، نو اوس به دېردې تر شاد ټولې لوبې ښه ننداره کړی وای، خو دریغه چې ستر خوشحال هم دا ارمان ګور ته وړی چې:

اتفاق په پښتنو کې پیدا نه شو

ګنې ما به د مغل ګریوان پاره کا

سندریز حالت لا دوام لاره ماته خوب راغی لاړم خپلې کوټې ته ویده شوم، سهار وختي لمانځه ته پاڅیدم، د اختر لومړی ورځ وه، باید د اختر لمونځ مو هم اداء کړی وای په زړه کې مې دا ګرځیدل که شیرزي صاحب عیدګاه ته لاړ شي، امنیتي حالات سم نه دي ، هسې نه خدای مه که څه پیښ نه شي، په کور کې خو د اختر لمونځ نه کیږي ، په همدې اندیښنه کوڅې ته راووتو - والي صاحب غږ وکړ، ویل ته او ځواک ماسره په موټر کې کینی، ټول موټرو ته وختلو ، د شیرزي صاحب ورور دی زمونږ مخې ته راغی، موټر یې ودراوه ، چاسره یې په تیلیفون خبرې کولې، ښایي د طالبانو نه به ځوک و چې دوی ته به مخلص و- شیرزي صاحب ته راغی، ویل عیدګاه ته مه ځئ په لار کې څه خطر شته، کوم ځانمرګی درته ناست دی، د والي صاحب زړه وو چې سرزوري وکړي، خو هغه بیا په ټینګار ورته وویل، مه ځه- زمونږ ټینګار هم همدا وو چې باید لاړ نه شو، د والي صاحب دې کور ودان وي، وې منله، د خپل پلار د زیارت په لور وخوځیدو- هو ربښتیا حاجي فیض الله عمر هم د والي صاحب په موټر کې وو.ش

هغه لړه ډیره جانداري کوله، دهر ځای په باب یې مالومات ورکول، مونږ هم نابلده وو ، هر ځای به مو چې لیده غوښتل مو چې په اړه یې مالومات ولرو ، له نخاس څخه تېر شولو د کرز سیمې ته ورسېدو ، فیض الله عمر ویل کرزی صاحب ددې سیمې دی چون ژمی وو ډیره سپیره ښکاریده ، د روح رباط سیمې ته ورسیدو بیا حاجي فیض الله عمر وسکونډلم ویل همدرد صاحب دا د شیرزي صاحب جایداد دی ، ۱۰۰۰۰ جریبه ځمکه ده په کتابونو کې ثبت ده ، والي صاحب دا خبره لږه تصحیح کړه ویل

۴۰۰۰ جریبه ده ، ښې ابادې ځمکې وې ، په همدې خبرو خبرو ښې لاس ته تاو شو ، یو ښایسته ځای و ، هلته ودریدلو ، والي صاحب ویل : دا د حاجي بابامزار دی .

حاجي بابا د شیرزي صاحب د پلار کورنۍ نوم دی چې ولسي خلکو اودکورنۍ غړیو یې په همدې نامه یادوه ، ویل کیږي چې هغه د کندهار قومي مشر او نامتو قوماندان و ، چې په زړورتوب کې یې دزمري لقب ګټلې و .



، دحاجي بابا مزار په دوو پوړونو کې خورا ښه جوړ شوی و ، دعا مو وکړه ښکته شولو، یوې ماڼې خواته روان شولو ، دماڼې او زیارت تر منځ ښایسته پارک و ، چې دماشومانو دلوبې سامان هم پکې و ، والي صاحب ویل ، خلک د حاجي بابا مزار ته چې راځي ، همدلته میلې هم کوي .

د ماڼې څو تنه خادمان د والي صاحب په لیدلوسره ډیر خوښ شول ، پوه شول چې اوس مو اختر ښه غوړ تیریږي . دماڼۍ په بره برخه کې د فغانستان په نقشه یوه ګلخانه هم جوړه شوی وه ، چې مختلف ګلان هم پکې وو ، له هغې پورته امنیتي مرکز و ، شیرزي په ټولو عسکرو غږ وکړ ځان ته یې راوغوښت او په نغدي مکافاتو یې خوښ کړل ، اخوا ښه لوبغالي هم جوړ شوی و ، ترڅنګ یې د تبلیغاتو یو مرکز و ، حاجي فیض الله وویل : والي صاحب خپل درې سوه جریبه ځمکه تبلیغي مرکز ته وقف

کړې ده ، دوه لکه ډالر یې هم ورکړي چې جوړ یې کړي ، چاى راوړل شو ، هرچا پخپل زړه کې څه ویل خوله خولی یې نه ایستل ، فیض الله عمر ټینګ نه شو ، ویلې شیرزی بې له حکومتي موقفه هم پاچا دی ، دی شتو ته وګوره چې خدای (ج) ورکړي دي ، ټولو وخندل ، والي صاحب وویل : ژر به له دې ځایه لاړ شو که دکلي خلک خبر شول خلک هم په تکلیق کیږي او تاسې هم ، موټرو ته وختلو تر ښاره امنیتي پولیس ولاړ و ، ټولو ته یې پیسې ورکړې دسیمې خلک هم چې به د سړک پر سر ولاړ و ، شیرزي ورته زر ، زر افغانی داختر مبارکۍ په ډول ورکولې ،چاته دوه زره ، چاته تر دې هم ډیر ، خو سلګونو خلکو ته یې پیسې ورکړې کورته راغلو ، دوالي صاحب ملګري والي صاحب ته وویل ځان مرګي برید کوونکی زمونږ د امنیتي موظفینو لخوا وویشتل شو چې له ویشتل کیدو وروسته خپل چاودیدونکې توکي یې هم وچاوه ، په دې پیښه کې بل چاته زیان وانوښت یوازې ځان مرګي ووژل شو، والي صاحب ددې خبرې په اوریدو دیوی سوی اسویلي په کښلو وویل دا بدبخته که څه هم زما د وژنې په خاطر راغلي وو ، خو مرګ مې پرې نه لوریده ،دا اختر وګوره او دا غم ، په همدې خبرو کې چاې راوړل شو ، له چاى څښلو وروسته وقار ، ځواک ، محې الدین ، ډاکټر ایمل ، اینجینر عظیم ، حاجي ابراهیم او اینجینر زاخیل چې تول به یوه ډله کې وو ، پریکړه مو وکړه چې ښارته به وځو ، او دکندهاریانو په اصطلاح منظره به کوو هغه موټر چې زمونږ د انتقال لپاره توظیف شوی و ، دا مهال بل چاوړی و ، دوالي صاحب خوریه ، زلمی ( چې دشرافت ټوټه ده ) راباندې غږ وکړ ویل همدرد صاب څه خبره ده ما ویل مو ټر مې پکارده ویل اوس به یې درته پیدا کړم ، کور یې ودان موټر یې پیدا کړ ، خو ټول پکې نه ځایدو انجینر زاخیل ، ډاکتر ایمل ، انجینر عظیم او حاجي ابراهیم ورکې وختل ویل تاسې پسې به بیا راشي ، موږ ورو ورو په پلې ډول وخوزیدو لارکې ځواک مرور شو ، دمحي الدین سره یې څه لانجه راغله هغه بیرته وګرځیده ، مونږ د شهیدانو چوک ته لاړو .

هو! ربښتیا انجینر حکیم او ګل جان هم موږسره وو ، انجینر حکیم وویل زه د عبدالله کندهاری کسټونه اخلم بیا درځم ، زه جادې ته وختم هلته د انګریزانو له وخته راپاتې دویاړدنښو په توګه توپونه هم ایښودل شوي وو .



له يو ترافيک نه مې چې د پوښ عمر سړی وو ، غلام حضرت نومېده ، پوښتنه وکړه ، ما ويل د شهيدانو څلور لارې د تاريخي پس منظر په اړه که راته مالومات راکړې ، داسې مالوميده چې پوره مالومات يې نه لرله خو اوريدلې و ، چې دانګريزانو دواکمنۍ پرمهال دلته يو باغ و، يو شمېر خلک پکې اوسېدل خلک ويده وو ، انګريزانو هغوي ټول شهيدان کړې وو ، عکسونه مو واخېستل د ښار لويديځ لورې ته لاړو ، زموږ زړه تنګ و ، هغه پارک چې پخوا جوړه شوی ور داخل شولو



داسې مالوميده چې پارک په پيل کې خورا عصري جوړ شوی و ، خو اوس سپېره ، خوار او زار مالومېده .

لکه چې دکندهار چاروکو ورته پوره پاملرنه نه وه کړې ، که څه هم چې د ښاروالۍ له خوا يو تن ناست و ، پرته له ټيکټه يې له خلکو پيسې اخيستې ، او بيا به يې خلک پارک ته پريښودل .

انځور

ما ورته وويل، دا پارک خو خپله ګټه لري ، لرې پرې ولګوئ ، حداق که تر دې يې ښايسته کولی نه شئ ، په هغه پخوانۍ بڼه خو يې وساتئ، په پارک کې د ماشومانو لپاره يوه لويه ګڼ زانګوييزه دستګاه فعال وه .

د لوبو ميدانونه وران ويجاړ وو،داوسپنې پټې چې دتفريحي اورګاډو لپاره جوړ شوی وو فعاله نه وو ، چوکۍ يې ماتې وې ، تشنابونه يې هم غير فعال وو ، څه سربه مو خوړوم ، شورنخود مو وخوړل ، د غرمې ډوډۍ لپاره بيرته د والي صاحب کورته راغلو ، ګورو چې د معمول خلاف د پسه له غوښې رنګا

رنګ کبابونه ، فریني ، سلاد، او ځینې نور خواړه هم ایښودل شوی وو ، ډیر خلک ناست وو ، والي صاحب چې د ډوډۍ برمهال د خپل عادت له مخې د مېلمنو پالنه کوله ، یوه لوړ پګړی داره پوخ عمره ځوان ته لاس ونیوه ویل دا عطا جان ملي تجار دی ، پرما ډیر ګران دی ، ننګرهاریانو دا مېلمستیا عطا جان کړې ده ، بابای ننګرهار پرې غړ کړ ویل ، خدای دې ورته خیرورکړي ، ښه ډوډۍ یې کړې ده . ډوډۍ وخوړل شوه .

درېیمه شپه :

دشپې بیا د معمول په څیر د موسیقۍ محفل دوالي صاحب به شخصي ماڼۍ کې جوړ شوی و، خو زما چرت لږ خراب و ورنغلم .

حاجي ګلمراد هم مونږ سره په دې بنډارونوکې برخه لرله ، ټولو ته انار او تازه مېوه په کندهار کې کله کله دهه برابروله ، انار خورې بیا وشوله .

سبا والي صاحب وویل چکر ته وځو ، له کوره بیا د موټرو اوږد کاروان ووت ، مخامخ د بابا صاحب زیارت پر لور ، په لارکې چا یو لوي کور ته اشاره وکړه ، ویل دا دطالبانو د مشر ملامحمد عمر کور دی ، وګورئ څومره لوی دی ، خو اوس پکې بهرنیانو مرکز جوړ کړی دی، له غرګوټې واوښتو ، لږه شېبه وروسته د ارغنداب ولسوالۍ په پیل کې بابا صاحب ته ورسېدو .

بابا صاحب هغه زیارت دی چې کندهاریان ورته ډیر عقیده مند دي، دزیارت له متولي نه مې د بابا صاحب په اړه وپوښتل ما ویل بابا صاحب څوک دی . هغه سر وګراوه معلومېده چې چنداني معالومات نه لري په تصادفي ډول یې وویل دا کوم صحابي دی چې نوم یې راته نه راځي ، د نغمط سندره رایاده شوه :

زما بابا ولي درلوېږمه ځولۍ ته

درځم عذرو زارۍ ته ، درځمه

دکندهار خلک هره جمعه دغه زیارت ته ورځي ، او هلته ددعاګانو ترڅنګ میلې هم کوي ، دکندهار پخواني والي ګل اغا شیرزي دغه زیارت اوتر څنګ غریبې ډیر ښکلی جوړ کړی و، دبابا صاحب زیارت ته دوه لوکسې زینې ختلې وې ، پر زیارت ښکلی منار جوړ شوی و ، شاوخوا ترې د اوسپنې کټارې تاوې وې ، له ننګرهاره ټول تللي خلک د شیرزي سره زیارت ته ننوتل ، له دعا وروتسه یې یادګاري انځورونه واخیستل .

انځور

کله چې له زیارت وتلو ، شېرزي دغره به منځ کې یو هوټل ته ګوته ونیوله ، ویل یې راځئ دې هوټل ته خیژو ، په لاره کې د ننګرهار سپین ږیروته یې د زیارت د بیارغونې په اړه مالومات ورکول، ویل له دې ځایه دغره تر سره درې سوه شپېیته پټې ، زینې مې جوړې کړي دي ، ورو، ورو په زینو ختلوپه منځ

کې داوبو یوه لویه ذخیره جوړه شې وه ، چې دواټر پمپ په واسطه ډکېدله او د ټول غره ځنګل او بوټې پرې اوبه کیدې ، داوبو د ذخیرې لاندې دغره یوه لویه ډبره پرته وه .

دغه ډبره د انجینرانو لخوا دبرمې په زور ، سوری شوې وه ، اوبه له دې سوری روتلې ، او بیا به لاندې کوزیدې، شېرزي لږ تم شو ویل یوه ورځ یو ساده کندهاری راغی ویې لیدل چې دغره له دې غټې ډبرې اوبه وځي ، زه یې مخاطب کړهم ، ویل یې ( شېرزیه د مورشیدې دې سه چې دبابا صاحب زیارت دې ډیر شه جوړکی او دبابا صاحب دې هم دمور شیدې سي چې په خپل کرامت والله له وچې ډبرې اوبه وباسي ) ویل یې مونږ وخندل ځکه چې دا ډبرې انجیرانو سوری کړې وه ، دزینو کینې لو ر ته تاوشولو ، یو لوکس هوټل پرې جوړه شوې وه ، دهوټل دروازې ښې لورته د کبانو لپاره یو ځای داسې جوړ شوی وه ، چې مصنوعي وه خوطبیعي ښکاریده ،ډیر لوکس و، دریغه چې اوس یې په لیدو سړی ډېره خفه کیږي ، دننه ورغلو بیا خلک را غونډ شول ، یادګاري انځورونه یې واخیستل ، د هوټل پایې ، چت ، ځمکه او نقشه داسې جوړه شوې وه چې په ربښتیا هم د خلکو پاملرنه یې ځانته را اړوله .

شیشې یې ماتې شوې وې خیرې او ګردونه یې مخ سپیره کړی و ، ټولو تعجب کولو چې دومره لوکس هوټل په دومره لوړ ارتفاع کې چې نیم کندهار او ټلو ارغنداب ترې ښکاري ، ولې فعاله نه دی ، د کندهاریانو په اصطلاح ښه دمنظرې ځای و .

یو تن امنیتي چارواکي وویل دلته څوک اوسیدی نه شي ، مخامخ سیند نه پورې غاړه طالبان دي ، چاروکي هیڅ راتللی نه شي ، ځکه ولې یې ، تاسې لویه کړی چې دلته راغلي یاست .

به خندا ، خندا کې ترې ښکته ترې ښکته شولو ، له زینو چې کوز شولو ، د شېرزي مخې ته ی سړی چې په بدن ټوک ، ټوک و ، راغی .

لاسونه یې ورښکل کړل ، ویل : دا دارغنداب د امنیې قومندان و ، ډیر تکړه سړې دی ، څو ځان مرګې برید کوونکې یې ژوندي نیولي دي ، یوه چا پر ما برید کاوه ، ده ټینګ ونیوه ، اوس ټوک ، ټوک دی خو همت یې نه دی بایللی ، شېرزي په غیږ کې ټینګ ونیوه ، اوښکې یې په سترګو کې وڅرخیدې ، ویل یې ژوند دې ښځګه تیریږي ، قومندان ویل چندان ښه نه دی ، ددولت معاش کم دی ، شیرزي ورته وویل : دمیاشتی لس زره افغانۍ به موږ درکوو ، ځان ډیر مه ستړی کوه ، سړی خوشحاله شو، مونږ ترې روان شولو ، موټرونه وختو او بیرته کورته راغلو .

څلورمه شپه :

ملخی راغی ویل راځئ چې څو زموږ یو بل دوست دی حاجي پاچا نومیږي ، میلمانه کړي یو موټر ته وختولو ، دلس ګونو موټرو کاروان بیا تګ ته چمتو شو، لس دقیقې وروسته دیو شاهانه ماڼۍ مخې ته ودریدو ، د ماڼۍ له لویې دروازې د ماڼۍ تر دودانۍ پورې سړک په تازه مرسل ګلانو فرش شوی و .



څو تنه ګلان په لاس ولاړ وو ، پر مېلمنو د ګلانو له شیندلو وروسته یو شمېر مېلمانه دوهم پوړ ته رهبري شول ، یو شمېر نور لاندې پاتې شول ، په دوهم پوړ کې لوې حال و ، دومره کریستاال سیټونه یې په چت کې زوړند و ، تابه ویل د شیټونو کوم دوکان دی .

زموږ یو ملګری د طنز په ژبه وویل : لکه چې د کرېسټال شیټونو پلورنځي ته راغلي یو .

ومو خندل په کوچونو کیناستو ، دکوچونو مخ ته بر میزونو تازه او وچې مېوې ، غابونو کې ایښې وې ، یو سړی چې پګړی یې پر سر وو ، توره ږیره یې پر مخ مېلمنو ته لاس په نامه د هرکلي لپاره ولاړ وو مخامخ کیناست ، والي صاحب ویل دا حاجي پاچا نومیژي دا زما ډیر نژدې دوست دی، هغه چې نری موسکایې په شونډو حکومت کاوه له (خدای مو راوله ) اصطلاح وروسته یې وویل : حاجي ګل اغا یوازې پر ننګرهاریانو او ننګرهاریانو نه بلکې په ټولو افغانانو ګران دی ځکه تاسې چې د کندهار څومره سړکونه ګورئ دده د شپې تر دوو بجو سر په لاس ګز او ګام کړې او بیایې ډمبر کړي دي ، بابای ننګرهار ملک نظیر چې ددې سفر مشري ورپه غاړه وه ، وویل : شیرزی د ټولو پښتنو مشر دی . موږ ته یې هم ډیر خدمتونه کړي دي، خو ګورئ موږ ( ننګرهاریان ) هم له ده سره نا ځواني نه ده کړې دده په خوښه دننګرهار په دوویشتو ولسوالیو کې مو کوکنار بند کړي دي هغه څه چې د بندولو تصور یې هم چانه شو کولای ، بیا یې ورزیاته کړه ، تاسې پخپله درانه خلک یاست ، زموږ مو ډیر عزت وکړ، خدای (ج) ستاسې عزت وکړي ، د مومندرې قومي مشر حاجي اول داد ورپسې غبرګه کړه : د جلال اباد ماڼۍ کوزنۍ برخه چې داوبو ډنډونه او ځنګل و زما ښه یاددي چې باران وریده ، شېرزي صاحب پخپله ورته

ولاړ و ، ډکې لار ی به یې پکې تشولې تر هغې چې اوس شېرزي لوبغالي زمونږ لپاره دویاړ یو نوم دی
.

دننگرهار په امنیتي وضعې او بې اتفاقیو یې هم رڼا واچوله ، بیا یې د ختیځو ولایتونو د هغې جرگې په باب چې دسولې او پرمختگ په نوم یادیږي یادونه وکړه ، وې ویل : باید دپښتنو په لوی کورکې سوله راولو ، هدف یې کندهار و، حاجي پاچا چې مخامخ ورته ناست وو ، موسکی شو ویل ترڅو چې شیرزی رانه شي او دا ټول په یوه ټغر کښینه نوي ، گرانه ده چې سوله راشي ،دې نه وروسته څو شیبې خاموشي خوره وه ، څوک راغی ویل یې ډوډی تیاره ده لاندې راکوز شئ ، په ځمکتلې ( زېرزمینی) کې یو بل لوی صالون و، ډوډی پکې ایښودل شوې وه ، گرچې اخلاص په کې ډیر شوی و ، خو په ډوډی کې ماته د ننگرهارخلک باسلیقه ښکاره شول ، دموسیقی پروگرام هم ترتیب شوی و ، خو موږ باید سبا کابل ته پرواز کړی وای ځکه ورته پاتې نه شو لو ، دشیرزي صاحب کور ته راغلو ، د شپې تر دوو بجو بیا موسیقي وه ،گل جان استاد او انجینر حکیم ښي سندري ویلې ، سبا لس بجې د کندهار هوایي ډگر ته لاړو ، پرواز اماده وه ( وایي چې همدا غر او همدا کربوړي ) ، هماغه زړه الوتکه بیا هم ولاړه وه ،الوتکې وختلو له یوه ساعت هوایي سفر وروسته د کابل پر هوایي ډگر راښکته شولو ، حاجي صاحب گل مراد سره موټر کې کېناستو ، زموږ د یو ملگري سلیم جان ورور مړ و، فاتحه مو ورته  وکړه جلال اباد ته را راون شولو ، حاجي گل مراد راته یوه کیسه وکړه ، ویل یې ستاسې یو فرهنگي ملگری چې له څیرې ډیر عاجز ښکارېده ، پر ما گران هم و ، لږ ترې خوا بدې شوم ، ما ویل : ولې ؟ ویل : په دریمه شپه انارمو خواړه دی پاځېده پر خلکو یې غږ وکړ ویل ما څو ورځې کیږي چې خبرې نه دې کړي ، یو څو خبرې کول غواړم ، ویل وه  دکندهار خلکو ! تاسې خبر یاست چې پیغمبر (ص) چیرته پیداشوی ؟ خلکو ویل مکه معظمه کې ، ویل چیرته دفن دی ؟ خلکو ویل مدینه منوره کې ، ده ویل پوهیرئ چې دا ولې ؟ بیایې پخپله تشریح کړه ددې لپاره چې د پیغمبر (ص) اول خدای پاک د مکې پرخلکو ولورواه چې کله هغوی یې په قدر پوه نه شول ، دمدینې پرخلکو یې ورپیرزو کړهع ، ځکه هلته دفن دی ، شیرزی هم خدای (ج) په تاسو کې پیدا کړ خو تاسې یې په قدر پوه نه شوئ په ننگرهاریانو خدای ولوراوه ، اوس هلته دی ، حاجي گل مراد ویل هرڅه خپل حد لري ، تشبه باید د تقدس له حریمه باید وانه اوړي ، ما ویل هو ، په رښتیا داخبره دتامل وړد ه ، خو زه به پکې څه ووایم .

دفرهنگي نوم ځکه نه اخلم چې گوندې په گانده کې  ځان د دغسې ستاینو چې دده شخصیت ته پکې زیان رسیري ډډه وکړي .

په همدې خبرو کې وو ، جلال اباد ته ورسیدو ، ماویل د ولسمشر د مېلستیا مزه خونه وه ، خو که اختر نه وای د کندهار بنډارونه پرې ډېر ښه وو.

یادونه : زموږ د سفر ملگرو حاجي ملک نظیر ته دډیر سپین ږیرتوب او مشرولی له امله بابی ننگرهار خطاب کولو .

پای